**د اووم ټولګي کیمیا - دریمه دوره تعلیمي لارښود**

---

**موخې تعلیمي:**
زده کوونکي باید د دې دورې په پای کې لاندې تعلیمي مفاهیم درک کړي:


**لومړی برخه: فزیکي خواص**

**پوښتنه :** څو فزیکي خواصو د موادو نوم کړئ چې تاسو یې په ورځني ژوند کې تر ټولو زیات استعمالوئ؟

**فزیکي خواص :**
فزیکي خواص د موادو ظاهري خواصو دي چې د موادو په کیفیت کې د بدلون پرته لیدل کېږي. لکه بوی، خوند، رنګ، روښوالی، د سختی درجه، کثافت، حجم، انبساط او انقباض، انشقاق، تراکم، حل کېدنه، درې حالته حالتونه (جامد، مایع، ګاز)، د جوش ټکی، د خټکېدو ټکی، د یخ کېدو ټکی، تبخیر، تصعید، کتل، وزن، د کرښې اغېز، او نور.

**مختصر تشریح**

- **بوی :** د فزیکي خواصو څخه ده چې د مالیکولونو د پورتني برخي نس ته رسیدو له لارې پېژندل کېږي، انسان د میتان ګاز په بوی ډېر حساس دی.
- **خوند :** دآیونونو د ژبې سره تماس له لارې پېژندل کېږي مختلف اجسام مختلف خوندونه لري، انسان د تریخ خوند په وړاندې ډېر حساس دی.
- **رنګ:** کله چې سپین نور (اووه رنګه نور ) پر اجسام ورېږي، جسم یو مقدار جذبوي او یو یا څو رنګونه انعکاس کوي، چې همغه رنګ ښکاره کېږي. تور رنګ تر ټولو زیات جذب لري (۹۷٪) او لږ نور انعکاسوي.
- **د کرښې اغېز :** د موادو رنګ په پوډر حالت کې ټاکل کېږي. لومړی جسم په لوی ټایل رګ کړي او د پیدا شوي پوډر اصلي رنګ وګوري.
- **روښوالی (جلا) :** د اجسامو د سطحې لخوا د نور ټولیز انعکاس دی، دا خواص په فلزاتو کې ډېره ده.
- **انشقاق :** د منرالونو ماتېدل په کوچنیو ټوټو ویشل. انشقاق دوه ډولونه لري: منظم او غیر منظم. همدارنګه د مالیکولونو د لویو ټوټو په کوچنیو ټوټو بدلول هم انشقاق بلل کېږي، لکه د ډبرې په شګه بدلول.
- **د سختی درجه :** د موادو مقاومت د خراش په وړاندې. په طبیعت کې سخت ترین ماده الماس او نرم ترین یې تالک دی.
- **تراکم :** د جسم حجم د خارجي فشار له امله کمېدل یا د ګاز د مایع په حالت بدلېدل.
- **انحلالیت :** حل کېدنه هغه حالت دی چې یو ټاکلی مقدار ماده په 100میلی‌لیتر محلول یا 100 ګرامه خالص اوبو کې په یوه ټاکلي تودوخي کې حل شي.
- **انبساط :** غځېدل هغه حالت دی چې د تودوخي زیاتوالي له امله د جسم حجم زیات شي، ځکه چې د مالیکولونو انتقالي او ارتعاشي حرکتونه زیاتېږي.
- **انقباض:** کمېدل هغه حالت دی چې جسم کوچنی شي.
- **حجم :** حجم هغه ځای دی چې یو جسم په فضا کې نیسي، او دا یو دری‌بعدي اندازه ده.




- **نقطه غلیان :**د جوش نقطه هغه تودوخه ده چې په هغې کې یو مایع جوش شي یا ګاز ته واوړی. یو مایع هغه وخت جوش کوي چې فشار یې د اتموسفیر فشار سره برابر شي.
- **نقطه ذوبان :**د جامد د مایع کېدو عمل ویلي کېدل یا ګداز بلل کیږي، او د ویلي کېدو نقطه هغه تودوخه ده چې په هغې کې یو جامد مایع ته واوړي.
- **نقطه انجماد :**د مایع د جامد کېدو عمل یخ کېدل بلل کیږي، او هغه تودوخه چې په هغې کې مایع جامد ته واوړي د یخ کېدو نقطه بلل کیږي.
- **تصعید:** تبخیر مستقیم هغه حالت دی چې جامد مستقیم ګاز ته واوړي. دا خاصیت په ځینو موادو لکه ایوډین او نفتالین کې لیدل کیږي.

- **کثافت :**کثافت هغه مقدار دی چې د جسم په واحد حجم کې د هغې د کتلې اندازه ښیي. د کثافت محاسبه د لاندې فورمول له لارې کیږي:

$$\text{کثافت} = \frac{\text{د جسم کتله}}{\text{د جسم حجم}} \rightarrow \text{density} = \frac{\text{mass}}{\text{volume}} = d = \frac{m}{v}$$

$$\text{د کثافت واحدونو}\ (d) = {}^{g}/_{mli}\ ,{}^{g}/_{cm^3}\ \ ,{}^{g}/_{cc}$$

لومړی مثال - که $5gr$ یوه جسم د $10Cm^3$ ځای ونیسي، د دې جسم کثافت محاسبه کړئ؟

$$\left.\begin{array}{l} m = 5gr \\ v = 10cm^3 \\ d = ? \end{array}\right\} \quad d = \frac{m}{v} = \frac{5g}{10cm^3} = 0{,}5\ {}^{g}/_{cm^3}$$

مثال 2- د یو جسم کثافت $1{,}5g/Cm^3$ دی. که حجم یې $200Cm^3$ وي، د یاد شوي جسم کتلې محاسبه کړئ؟

$$\left.\begin{array}{l} d = 2{,}5\ {}^{g}/_{cm^3} \\ v = 200cm^3 \\ m = ? \end{array}\right\} \quad d = \frac{m}{v} \Rightarrow m = d.v = 2{,}5\ {}^{g}/_{cm^3}\ .200cm^3 \Rightarrow m = 500g$$

مثال3- که د یوه جسم کتل $100g$ وي او حجم یې $20Cm^3$ وي، د دې جسم کثافت محاسبه کړئ؟

$$d = \frac{m}{v} = \frac{100g}{20cm^3} = 5\,{}^{g}/_{cm^3}$$

1. **لامبووهونکي جسمونه :** هغه اجسام چې کثافت يې د اوبو په پرتله کم وي، په اوبو کې شناور پاتې کېږي او د لامبووهونکي جسمونه په نوم يادېږي. لکه وچې لرګي، تېل، غوړي او نور.
2. **غیر لامبووهونکي جسمونه :**که کثافت يې ډېر وي، په اوبو کې ډوبېږي، لکه ډبرې، اوسپنه، ښيشه او نور.

**يادونه :** تودوخه د درې طريقو له لارې له يوه جسم څخه بل جسم ته انتقالېږي:

3 **د تودوخې تشعشع :** تودوخه د تشعشع له لارې له يوه جسم څخه بل جسم ته انتقالېږي. لکه د لمر تودوخه چې د تشعشع په اثر ځمکې ته انتقالېږي.
4 **د هادي اجسامو له لارې انتقال :** تودوخه د هادي اجسامو له لارې انتقالېږي. مثلاً، که د فلزي سيخ يو سر يې د اور پر سر کېږدوو، تودوخه بل سر ته هم انتقالېږي.

**د جريان له لارې انتقال** تودوخه د ګرمه جسم څخه يخ جسم ته د جريان په وسيله انتقالېږي.

**کورني دنده**

1 . د ويلي کېدو او غليان نقطه څنګه د موادو د ماليکولي جوړښت سره تړاو لري؟
2 . ولې ځيني مواد انعطاف پذير دي، پداسې حال کې چې ځيني ماتېدونکي دي؟
3 . .څنګه د يوې مادې سختې اندازه کولی شو او ولې دا ځانګړتيا مهمه ده؟
4 . .کوم عوامل د موادو حالت د جامد څخه مايع ته او د مايع څخه ګاز ته بدلوي؟

**د کيمياوی مادې خواص**

کيمياوي خواصو د مادې د نورو موادو سره تعاملاتو پورې اړه لري او د هغې ترکيب بدلوي، ځيني مهمې کيمياوي ځانګړتياوې په لاندې ډول دي:

- **تعامل پذيري :** د مادې وړتيا چې له نورو موادو لکه اکسيجن، اوبو يا اسيدونو سره عکس العمل وښيي.
- **سوځېدل) احتراق:** ځيني مواد لکه لرګي يا بنزين د اکسيجن په شتون کې سوځي او انرژي خوشې کوي.
- **زنګ وهل:** د ځينو فلزاتو لکه اوسپني د اکسيجن سره تعامل زنګ جوړوي.
- **اسيدي يا القلي والی :** مواد کولی شي اسيدي يا القلي ځانګړتيا ولري، او pH يې د دې درجه معلوموي.
- **تجزيه تودوخې :** ځيني مواد د تودوخې په اثر ماتېږي او نوي ترکيبات رامنځته کوي.

**کورني دنده**

١ .د اسیدونو او القلي موادو ترمنځ توپیر څه دی او څنګه يې پېژندلی شو؟
٢ .ولې ځینې فلزات لکه اوسپنه زنګ وهي، خو ځینې لکه طلا نه زنګ وهي؟
٣ .احتراق څه شی دی او د هغې لپاره کوم شرایط ضروري دي؟
٤ .کوم مواد د تودوخې په اثر ماتېدای شي او د دې ځانګړتیا کاروني څه دي؟